

د پالیسۍ لنډیز

# ناسته؟

## روسیه، افغانستان او اروپا

تیمور شاران، اندرو واټکینز

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه د پالیسۍ لنډیز په ۲۰۲۱ ز.کال کې او له هغې هاخوا له افغانستان سره د روسیې ښکېلتیا تر څېړنې لاندې نیسي. دا چې څرنګه په ۲۰۲۱ ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به د روسیې سیمه ییزې او کورنۍ ګټې اغېزمنې کړي، تر بحث لاندې نیسي. دا له افغانستان سره د روسیې راتلونکې ښکېلتیا، سناریوګانې، اغېزې او په کابل، مسکو او د اروپا په نورو پلازمېنو کې د پالیسۍ سمون لپاره اړتیا څېړي. همدارنګه د افغانستان په تړاو له اروپايي همکارانو سره د نږدې همکارۍ لپاره د بلقوه همغږو ساحو بیاکتنه هم کوي.

د افغانستان پر وړاندې د روسیې ستراتیژیک بدلون نولسمې پېړۍ ته رسېږي، داسې چې کله روسیې په خپله سوېله پوله کې افغانستان د سترو قدرتونو لپاره د لوبې سیمه وګڼله؛ لومړی له برتانیا او بیا د سړې جګړې پر مهال د امریکا له متحدو ایالتونو سره. په تېرو څلورو لسیزو کې، د افغانستان په تړاو د روسیې ستراتیژیک منطق د خونړۍ تجربې پر اساس ولاړ و چې په پایله کې په ۱۹۷۹ ز.کال کې یې د شوروي ناکامه یرغل ته لار اواره کړه. په ۱۹۹۲ ز.کال کې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ځایناستي رژیم له نسکورېدو وروسته، روسي پالیسي پوهان افغانستان ته د سخت دریځه اسلام، تروریزم، نشه یي توکو او بې ثباتۍ په ګډون د راتلونکو اغېزو سره مل د امنیتي ګواښ په سترګه ګوري. په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو په مشرۍ د ناټو د مداخلې په لومړیو کلونو کې روسیې دغه ماموریت ته د سیمه ییز ثبات د یو فکتور په سترګه کتل، خو په ۲۰۱۴ ز.کال کې د امریکايي ځواکونو له راکمېدو وروسته په افغان جګړه کې یې ټول اړخونه ښکېل کړل ترڅو د بې ثباتۍ خطر د خپل ځان او مرکزي اسیا پر وړاندې راکم کړي. د امریکا متحدو ایالتونو او روسیې ترمنځ د سترو ځواکونو د سیالۍ او مرکزي اسیا ته له افغانستان څخه د راولاړېدونکي باالقوه ګواښونو سربېره، روسیه به په یقیني ډول د امریکايي ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان په پېچلي جیوپولیټیک کې پیاوړی لوبغاړی وي.

## روسیه په افغانستان کې: ناڅرګنده پالیسي

روسیه، افغانستان ته د امریکا متحدو ایالتونو د ستراتیژیک امنیتي ګټې د لید له لارې ورته ګوري، چې باید کمزوری شي ترڅو د ناټو د پراختیا مخه ونیول شي. په ورته مهال، د امریکا متحدو ایالتونو او اروپايي ټولنې له اندېښنې ډکې اړیکې او روسیه په نورو نړیوالو موضوعاتو کې (د بېلګې په توګه، د ناټو له پراختیا څخه نیولې بیا په اوکراین او سوریه کې تر نیابتي جګړې پورې) په نامستقیم ډول د افغانستان پر وړاندې د روسیې پالیسي ناڅرګنده کړې ده. داسې چې په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو د شتون پر وړاندې د روسیې اوسنۍ دریځ کولی شي چې په ناڅرګندتیا کې ښه تعریف کړو.

مسکو په افغانستان کې د ناټو اوږدمهاله شتون د خپلو سیمه ییزو ګټو پر وړاندې جدي ګواښ ګڼي؛ همدارنګه د امریکايي ځواکونو ناڅاپي او بېړني وتلو په اړه خبرداری هم ورکړی، چې ښايي سیمه ییز امنیت په ځانګړي ډول د مرکزي اسیا کمزوري جمهوریتونه بې ثباته کړي. په افغانستان کې د روسیې بنسټیزه امنیتي لېوالتیا د داعش په ګډون مرکزي اسیا او روسیې ته د تروریزم او سخت دریځه اسلام د پراختیا مخنیوی دی.




قفقاز او مرکزي آسیا. سرچینه: د ویکیپیډیا کامنس

۱. «له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: د افغانستان په ګاونډ کې د ګټونکو سناریوګانو لپاره خنډونه کوم دي؟» دا پروژه د فرېډرېش-ایبرټ-بنسټ (FES) خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیو لپاره احتمالي سناریوګانې، د پالیسۍ سمون او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړونکو ترمنځ د هر اړخیزې ستراتیژۍ اړتیا تر بحث او څېړنې لاندې نیسي. دغه لنډیز د هغې سلسلې برخه ده چې د انډریو واټکېنز او دوکتور تېمور شاران له لوري لیکل شوی دی چې د امریکايي ځواکونو وتلو او د افغان سولې روانو مذاکرو اغېزې د پالیسۍ پر شته وسایلو یا توکو، ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې او له افغانستان څخه بهر د کلیدي ښکېلو غاړو لپاره ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ لېست له دې ځای څخه ترلاسه کولای شئ: https://afghanistan.fes.de/publications

روسیه په تاریخي ډول مرکزي اسیا د خپل نفوذ ساحه بولي او په سیمه کې د ثبات رامنځته کوونکي په توګه عمل ترسره کوي؛ بې ثباتي ډېری مهال د روسیې د ظرفیت نشتوالي او یا هم د سرچینو د تخصیص له نشتوالي سره مل وي. په ۲۰۲۰ ز.کال کې د لاریون کوونکو له لوري د قرغېزستان لومړي وزیر کوبتېبک بورونوف ګوښه کول د دغو هېوادونو او اړیکو د کمزورۍ نښه ده. د زبرځواک په توګه د مسکو مطرح کېدل داسې په ډاګه کوي چې که نور څه نه وي نو په موجود نړیوال نظم کې د روسیې خپل درک داسې وړاندیز کوي چې روسیه به دغه هېوادونه له افغانستان څخه د راولاړېدونکي امنیتي ګواښ پر وړاندې خوندي کړي. دا واقعیت دی چې په تېرو دوو لسیزو کې له افغانستان سره د روسیې اړیکې کمزورې وې او پر ځای یې له مرکزي اسیا سره اړیکې پراخې شوې دي، چې روسیه له دغو هېوادونو سره د هغوی د پولو د امنیت په ټینګښت کې مرسته کوي.

مسکو له کابل سره ښې اړیکې لري په داسې حال کې چې د طالبانو مالي او وسله وال ملاتړ کوي او د هېواد په شمال کې له توکمیزو سیمه ییزو زورواکو او مخورو سره خپلې اړیکې پراخوي . په افغان جګړه کې د ټولو اړخونو په لوبولو سره د روسیې موخه دا ده چې خپل سیمه ییز نفوذ زیات کړي او په پای کې د دولت د نسکورېدو او یا هم د طالبانو واک ته په رسېدو سره خپلې راتلونکې ګټې خوندي کړي.

د افغانستان پر وړاندې د روسیې راتلونکې پالیسي د امریکا متحدو ایالتونو، اروپایي ټولنې او له پاکستان سره په پېچلو جیوپولیټیکو باالقوه لاملونو او له چین، ایران او مرکزي اسیا سره په پراخو اړیکو کې غبرګه ده. په افغانستان کې او له هغې ور اخوا له ایران سره د روسیې اړیکې او استخباراتي همکارۍ دغه باالقوه لاملونه لاپسې پیچلي کوي. په یوه برخه کې، روسیې د پاکستان پر وړاندې د ملګرتیا تګلاره غوره کړې ده ترڅو له اسلام اباد سره د اړیکو له لارې په سیمه باندې د چین نفوذ راکم کړي. په مرکزي اسیا کې د انرژۍ مهمو پروژو پر سر د روسیې او چین اړیکې یو بل باالقوه لامل دی چې په لوبه کې دوام لري، که څه هم جوړونکې دی.

> **که څه هم مسکو په افغانستان کې د ناټو ځواکونو اوږدمهاله شتون د خپلو سیمه ییزو ګټو پر وړاندې جدي ګواښ ګڼي، همدارنګه د امریکایي ځواکونو د ناڅاپي او بېړني وتلو په اړه خبرداری هم ورکړی دی، چې ښایي سیمه ییز امنیت په ځانګړي ډول د مرکزي اسیا کمزوري جمهوریتونه بې ثباته کړي.**

## په افغانستان کې احتمالي سناریوګانې: د مسکو لیدلوری

د مسکو د پالیسي پلان جوړوونکي د روانو مذاکرو د پایلو او په ۲۰۲۱ ز.کال کې له ټاکل شوي مهالوېش سره سم د امریکایي ځواکونو په وتلو سره په لاندې دریو سناریوګانو کې د افغانستان راتلونکی ګوري.

- ثابت او قانوني حکومت: دا یوه داسې سناریو ده چې اوسنی افغان حکومت په خپل حال پاتې کېږي او د ناټو له وتلو وروسته طالبان د اساسي قانون له چارچوکاټ سره یوځای کېږي. دغه سناریو د مسکو په ګډون نړیوالو ته یو ښه فرصت په لاس ورکوي چې په سیمه کې ثبات غښتلی کړي او په سیمه ییز اقتصاد، امنیتي همکاریو او د مرکزي اسیا او سوېلي اسیا ترمنځ په نږدې والي تمرکز وکړي.

- ثابت، خو زړه راښکونکی نه: په دې سناریو کې معتدل او مناسب حکومت له منځه ځي. ډېری تېري کوونکي او سخت دریځه ځواکونه چې بشري حقونو او موجوده اساسي قانون ته هېڅ ژمنتیا نه لري، واک ته ورسېږي؛ نو ډېره شونتیا شته چې طالبان له داعش سره یوځای او د هېواد په بېلابېلو برخو کې عملیات ترسره کړي. دغه مهال شونې ده چې اروپایي ټولنه او د امریکا متحده ایالات خپل تمرکز پراختیایي مرستو او ډیپلوماتیکو هڅو ته واړوي. د روسیې له لوري په افغانستان کې طالبانو او د شمال زورواکو ته د اسانتیاوو چمتو کول، کولای شي مرکزي اسیا ته امنیتي خطر راکم کړي. خو شونې ده چې ځینو نورو ستونزو ته لار اواره کړي (د بېلګې په توګه، د نشه یي توکو قاچاق، کډوالي).

- له طالبانو او د هېواد په شمال کې له بېلابېلو عناصرو سره د روسیې ښکېلتیا کولای شي چې په افغانستان کې په ناارادي ډول د کورنۍ جګړې لپاره باالقوه عامل نور هم زیات کړي.

- د کورنۍ جګړې سناریو: په دې سناریو کې، که ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او د سولې مذاکرې پایلې په پام کې ونه نیول شي، نو جګړه دوام کوي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه ANDSF او پخپله افغان حکومت د امریکایي او اروپایي پوځونو او د مالي ملاتړ په نه شتون کې نسکورېږي. کېدای شي چې نړیوال تمویلوونکي د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو دوامداره ملاتړ ته لږه لېوالتیا ولري. همدارنګه د امریکا متحدو ایالتونو تاریخ ته په پاملرنې، کله چې له یوې سیمې او یا هم ځانګړي ایتلاف څخه خپل ځواکونه ایستلي دي، نو له دې سره مل بیا یې خپل مالي ملاتړ هم پرې کړی دی. شونې ده چې د اروپایي ټولنې ښکېلتیا هم تر بشري مرستو پورې محدوده شي. په دې سناریو کې، هغه څه ته چې تمه کېږي هغه د سیمه ییزو لوبغاړو په ملتیا بشپړه جګړه ده چې په جګړه کې ښکېلې غاړې له داخلي لوریو څخه ملاتړ کوي، ترڅو خپلې جیوپولیټیکې امنیتي ګټې تعقیب او پراخې کړي. د روسیې لپاره د مرکزي اسیا د بې ثباته کېدو ګواښ پراخ دی او تر دې دمه لږه لېوالتیا لري چې افغانستان ته د پوځونو استولو له لارې دغه تشه ډکه کړي؛ دا نه یوازې له دې امله چې په افغانستان کې ناکامه تجربه لري، بلکې مسکو لا د مخه په څو نورو ځایونو کې ښکېل دی لکه سوریه، اوکراین او لیبیا چې د ډېرو نورو سرچینو له نشتوالي سره مخامخ ده. داسې شونتیاوې شته چې روسیې داسې ډول ستراتیژۍ ته لومړیتوب ورکړي چې په شمال کې د زورواکو د ملاتړ او وسله وال کولو له لارې جګړه د افغانستان په جغرافیوي پولو کې محدوده وساتي.

---

۲. ګیبونز-نف، ت.، (۲۰۱۷)، «روسیه طالبانو ته وسلې ورکوي، د متحده ایالاتو لوړپوړی جنرال یې تایید وي» واشنګټن پوسټ، د ۲۰۱۷ ز. کال د اپریل ۲۴ مه؛ روولت، ج. (۲۰۱۸)، متحده ایالات وایي « روسیه طالبان تجهیزوي» بي بي سي، د ۲۰۱۸ ز. کال د مارچ ۲۴ مه

## د همغږو سیمو موندل

افغانستان د دې ظرفیت لري چې د نیابتي ځواک د سیالۍ ډګر شي. د دغو سیالیو مخه هغه مهال نیول کېږي کله چې اروپايي ټولنه، د امریکا متحده ایالات او روسیه په ګډه د همکارۍ په ساحو کې پر ګډو عاملونو کار وکړي.

- سیمه ییز جیوپولیټیک: دلته د اروپايي ټولنې، امریکا متحده ایالات او روسیې لپاره واقعي باالقوه عامل شته چې د افغانستان سیمه ییزې امنیتي پېچلتیاوې حل کړي. په هر صورت، دغه هېوادونه باید له خپله اړخه انعطاف وښیي، افغانستان ته د امریکا امنیتي ګټو د لید له لارې ونه ګوري او سیمه د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او د روسیې، افغانستان، مرکزي او سوېلي اسیا د همغږۍ پر مرکز بدله کړي.

- د تروریزم پر وړاندې مبارزه: د تروریزم پر وړاندې د مبارزې اجنډا یوه واحده موضوع او یا هم سیمه ده چېرته چې د اروپايي ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو او روسیې ګټې سره یوځای کېږي. د شته ګډوډیو سربېره، روسیه به په افغانستان کې د تروریزم پر وړاندې د مبارزې د شتون پر وړاندې خپل رضایت څرګند کړي.

- په افغانستان کې ثبات: اروپايي ټولنه او روسیه د ګډ کار له لارې کولی شي د دې تضمین ورکړي چې د سولې له راتګ څخه وروسته ټول شموله او باثباته حکومت رامنځته کېدلی شي. اروپايي ټولنه او روسیه په ۲۰۲۱ ز.کال کې د امریکايي ځواکونو د ناڅاپي وتلو په اړه ورته اندېښنه لري، چې کولای شي د داعش په ګډون د سخت دریځه اسلامي ډلو لپاره تشه رامنځته کړي او دوی به خپل عملیات له افغانستان څخه اخوا هم پراخ کړي.

پرته له دې چې د سولې پروسې پایلې په پام کې ونیول شي؛ داسې تمه کېږي چې په افغانستان کې د لوېدیځ شتون او نفوذ په کمېدو سره به روسیه پرته له دې چې د افغانستان له لوري د اغېزو د پراخېدو وېره ولري، په مرکزي اسیا کې به خپل فعال شتون نور هم پراخ کړي. روسیې لا دمخه د دا ډول پایلو پر وړاندې د مرکزي اسیا پوځونو جګړه ییز ظرفیت لوړولو په موخه د ټولیز امنیت تړون سازمان له لارې او د شانګهایي همکاریو سازمان د تروریزم پر ضد جوړښت څخه په ګټې اخیستنې چې د قرغېزستان په بېشکېک کې شتون لري، «وړاندې له وخته اقدامات» ترسره کړي دي، ترڅو د تروریزم او نشه يي توکو د قاچاق شبکو پر وړاندې مبارزه وکړي. روسیه له پخوا څخه د مرکزي اسیا په درېیو جمهوریتونو کې پوځي شتون لري چې له دې ډلې څخه په قرغېزستان کې هوایي اډه لري.

## وړاندیزونه

- اروپايي ټولنه د مهمو ګډو کرښلارو لکه د تروریزم پر وړاندې مبارزې او د مرکزي او سوېلي اسیا د اقتصادي یووالي په ګډون باید د افغانستان په اړه له روسیې سره د دوامداره او ګټورې ښکېلتیا په موخه ستراتیژي رامنځته کړي.

- مسکو کولی شي د سولې په روانه پروسه کې مهم رول ولوبوي. د پاکستان پر وړاندې د روسیې د ښو اړیکو ستراتیژي او له ایران سره له نږدې اړیکو څخه باید د امریکا متحدو ایالتونو او د اروپايي ټولنې د هېوادونو د سولې پروسې له ملاتړ څخه ګټه واخیستل شي. د افغان سولې په پروسه کې له مسکو سره باید «یوشان» چلن وشي او په کې ښکېل شي. په هر صورت، پورته سناریوګانو ته په پاملرنې، مسکو کېدای شي له وخت مخکې د سیمه ییزو زورواکانو په ګومارلو سره چې د شمال پولې په شاوخوا کې بې طرفه سیمه رامنځته کړي، کولای شي چې د سولې پروسه خرابه کړي. روسیه کولای شي چې له خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستنې د طالبانو او نورو ښکېلو داخلي غاړو د انګېزې جوړښت ته هم بدلون ورکړي.

- د افغان سولې په پروسه کې له ازبکستان او قزاقستان سره په لوړه کچه د امریکا متحدو ایالتونو ښکېلتیا په زړه پورې ده. اروپايي ټولنه او د امریکا متحد ایالتونه، روسیه باید وهڅوي ترڅو فعاله ونډه واخلي او د افغان سولې په پروسه کې خپله پاملرنه او نېکې هیلې وړاندې کړي.

---


**د لیکوالانو په اړه**

ډاکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکايي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کړکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله مندۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


**د پښتۍ انځور په اړه**

په مسکو کې د افغانستان په اړه د سولې په څو اړخیزه خبرو کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر لاوروف او د طالبانو د پلاوي غړي ونډه اخلي، سرګي کارپوخین/رویټرز

SERGEI KARPUKHIN /REUTERS


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فریډریش ایبرټ بنسټ له لیکلي مخکینۍ اجازې پرته، د فریډریش ایبرټ بنسټ له خوا له هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې د فریډریش ایبرټ بنسټ د لیدلوري منعکسوونکې نه دي.